مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲٦مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۷مه | ٤٦۳مه گڼه

پوهنتون


۴ مخ

## خانه نور د لوړو زده کړو موسسه

د دې موسسې اداري مرستیال وایي، د خپلو محصلینو او استادانو د وړتیاوو د لوړولو لپاره یې په کور دننه او بهر کې له نورو پوهنتونونو سره علمي اړیکې ټینګې کړې، څو وشي کولای د هغوی له علمي لاسته راوړنو او تجربو څخه ګټه واخلي.




## د ښار جوړونې وزارت: په تېر یوه کال کې په ټول هېواد کې ۴.۷ میلیونه جریبه دولتي ځمکه ثبت شوې



د ښار جوړونې وزارت په یوه خبرپاڼه کې ویلي چې دغه وزارت په تېر یوه کال کې په ټول هېواد کې څه باندې څلورنیم میلیونه جریبه دولتي ځمکه ثبت کړې ده.
د دغه وزارت په خبره، دغه کار د دولتي ځمکو د بانک پروګرام له لارې د یوه کال په لړ کې تر سره شوی چې په هغه کې څلور میلیونه او ۷۰۰ زره جریبه دولتي ځمکه د هېواد په ۲۸ ولایتونو کې ثبت او سیستم شوې ده. په خبرپاڼه کې همدارنګه راغلي چې له دغې شمېرې ۳۷۰ زره جریبه ځمکه په ننګرهار او ۲۳۸ زره جریبه په نیمروز، ۲۳۵ زره جریبه په کابل، ۲۳۰ زره جریبه په بلخ، ۲۱۷ زره جریبه په پکتیا، ۲۰۰ زره جریبه په کندوز، ۱۹۸ زره جریبه په کندهار، ۱۹۴ زره جریبه په هرات او پاتې نوره په ۲۰ نورو ولایتونو کې سروې او ثبت شوې ده.

# طالب زندانیان او سوله؛

## د ولسي جرګې رییس: ښایي بهرني استادان مړه شوي وي، ځکه په تبادله کې ځنډ راغی



۳

وروستۍ تبادله ولې وځنډېدله؟
۲ مخ

په پاکستان کې روان کړکېچ؛ لاملونه او پایلې
۲ مخ

امریکا له چین څخه څه غواړي؟
۳ مخ

## نوې څېړنه: د افغانستان ۳۳ سلنه نفوس د خوړو د کمښت له کبله سملاسي مرستو ته اړتیا لري

د خوړو د خوندیتوب د درجه بندۍ نړیوال بنسټ یا (IPC) ویلي، په افغانستان کې څه باندې لس میلیونه خلک د خوړو خوندیتوب نه لري او شاوخوا دوه نیم میلیونه کسان بېړنیو مرستو ته اړتیا لري. دغه بنسټ ویلي، په افغانستان کې د خوړو د کمښت اصلي لاملونه جګړه، د خوراکي توکو لوړې بیې او بېکاري دي. د یاد بنسټ درې میاشتینۍ سروې ښیي چې د افغانستان ۳۳ سلنه نفوس د خوړو جدي خوندیتوب نه لري او سملاسي بشري مرستو ته اړ دي.
په دوی کې ۷.۷۹ میلیونه کسان په بحراني حالت او د ای پي سي په درېیمه کټه‌ګورۍ کې دي او شاوخوا ۲.۴۴ میلیونه نور بیا بېړني حالت او د دې بنسټ په څلورمه کټه‌ګورۍ کې دي. دغه اداره اټکل کوي چې د ۲۰۱۹ له نومبره د ۲۰۲۰ ز کال تر مارچ میاشتې پورې به شاوخوا ۱۱.۲۹ میلیونه کسان چې د افغانستان د نفوس ۳۷ سلنه کېږي، د خوړو د نه خوندیتوب له جدي ستونزو سره مخ شي. د دوی له ډلې به ۸.٦ میلیونه کسان بحراني حالت او نږدې ۲.۷ میلیونه نور به په بېړني حالت کې وي. خو د افغانستان پېښو ته د چمتووالي او د طبیعي پېښو د اغېزو د کمولو وزیر نجیب اقا فهیم ویلي، دوی د ای پي سي د رپوټ له شمېرو سره موافق نه دي. هغه زیاته کړې: «د ای پي سي رپوټ د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري یا اوچا له مخکیني رپوټ سره تفاوت لري. د اوچا په رپوټ کې د افغانستان ٦.۳ میلیونه کسان د خوړو نه خوندیتوب سره مخامخ یاد شوي وو او موږ د دوی رپوټ تر ای پي سي واقعیت ته ډېر نږدې ګڼو».

## یوناما دې زما په اړه د ټاکنو کمېسیون ته د کړې شکایت سپیناوی وکړي



۳ مخ

## نشست‌ها دربارۀ از سرگیری روند بازشماری آرای انتخابات ریاست جمهوری بی‌نتیجه بوده‌اند



تیم انتخاباتی ثبات و همگرایی به رهبری عبدالله عبدالله می‌گوید که نشست‌های نماینده‌گان نامزدان معترض به این روند با کمیسیون مستقل انتخابات، تاکنون به هیچ نتیجه‌یی نرسیده‌اند. این در حالی است که چهارشنبه هفتۀ پیش، کمیسیون مستقل انتخابات روند بازشماری بخشی از آرای انتخابات ریاست جمهوری را متوقف ساخت تا در این باره با تیم‌های انتخاباتی معترض به این روند، گفت‌وگو کند.
فریدون خوزون، سخن‌گوی تیم انتخاباتی عبدالله عبدالله گفته است: «کمیسیون، زیاد سر احتمالات بحث می‌کند؛ به جای این که بیشتر طرزالعمل و قانون را عملی بکند. ما تمام موارد قانونی را در اختیار شان گذاشتیم و امیدواری ما این بود که کمیسیون یک پاسخ قانع‌کننده را برای ما داشته باشد؛ اما این‌ها تا هنوز هم نتوانسته‌اند که قناعت تیم‌های انتخاباتی را که روند بازشماری تفتیش را به تعویق انداخته بودند و اشتراک نکردند، فراهم کنند». اما، تیم انتخاباتی اشرف غنی، از کمیسیون مستقل انتخابات می‌خواهد که نگذارد روند قانونی انتخابات، از سوی یک تیم مشخص انتخاباتی، به گروگان گرفته شود. نجیب دانش، سخن‌گوی تیم انتخاباتی اشرف غنی بیان داشت: «درخواست ما از کمیسیون محترم انتخابات این است که برنامه‌های کاری خود را مطابق با تقویم‌شان پیش ببرند و نگذارند تا یک تیم مشخص یک روند کلان ملی مردم افغانستان را به گروگان بگیرد». عبدالعزیز ابراهیمی، سخن‌گوی کمیسیون مستقل انتخابات اظهار داشت: «ما امیدوار استیم که به یک راۀ حل برسیم؛ راه‌های حلی که در چارچوب طرزالعمل‌ها و لوایح ما مطابقت داشته باشند».

Shigal English Academy
شیګل انګلیش اکاډمي
SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

دریـــځ

## وروستی تبادله ولې وځنډېدله؟

ارګ وایي چې د انس حقاني په ګډون دری طالبان چې د خوشې کولو پرېکړه يې شوې وه، لا هم په بند کې دي. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي ویلي چې پر دې پرېکړه له سره غور شوی، طالبانو د تبادلې شرایط نه دي مراعات کړي، نو ځکه دا تبادله نه ده شوې او بندیان بېرته زندان ته لېږل شوي دي. ټاکل شوې وه چې انس حقاني، حافظ عبدالرشید او مالي خان د امریکایي پوهنتون د دوو استادانو په بدل کې خوشي شي. ولسمشر د دوی د خوشې کولو په تړاو رسمي او ځانګړې وینا وکړه، خو له وینا دوې ورځې وروسته په نامعلوم دلیل تبادله وځنډېدله. پوښتنه دا ده چې د دې ځنډ اصلي لامل څه و او حکومت په دې تړاو رښتیا وایي؟

په دې تړاو له سره ناسم معلومات ورکړل شوي وو. د تبادلې رسمي پرېکړه څو ورځې وړاندې د خلیلزاد او ملا برادر په پټه لیدنه کې وشوه. خلیلزاد قطر ته ورغلی و او هلته يې له ملا برادر سره وکتل، خو دا سفر پټ وساتل شو او په رسمي ډول يې په اړه څه ونه ویل شول. په قطر کې پرېکړه وشوه چې دا دری طالبان به د امریکایي پوهنتون له دوو استادانو سره تبادله کېږي. دواړو لورو دا پرېکړه هم وکړه چې طالبان به لس افغان امنیتي ځواکونه پرېږدي او داسې به نه ښيي چې ګواکې دا تبادله د امریکایي پوهنتون له استادانو سره شوې ده. د امریکایي اړخ ټینګار دا و چې طالبان باید د استادانو خوشې کولو ته د حسن نیت نوم ورکړي، څو د خبرو له بیا پیل سره مرسته وکړي. پر همدې توافق وشو، خو ولسمشر غني په دې شرط د طالب بندیانو خوشي کول منل، چې طالبان له حکومت سره مخامخ خبرو ته حاضر شي. د طالبانو د انکار او د امریکا د فشار په پایله کې ولسمشر له خپل دریځ څخه تېر شو او د دغو بندیانو د خوشې کول يې نه یوازې ومنل، بلکې رسمي وینا يې وکړه.

د تبادلې کارونه روان وو، بندیان له زندان څخه و ایستل شول، جامې ورته ورکړل شوې، د افغانستان لس کلن پاسپورټونه ورته ورکړل شول او یوه قطري الوتکه بګرام ته راغله چې بندیان ولېږدوي؛ خو یو ناڅاپه د امریکایانو پرېکړه بدله شوه. امریکایانو بېرته بندیان له الوتکې را وګرځول او له ځان سره يې وساتل. امریکا ظاهراً په لوګر او کابل کې وروستي بریدونه طالبانو ته د پلمې په توګه وړاندې کړې وو، خو اصلي لامل يې لا هم معلوم نه دی. دا کټ مټ هغسې چاره وه چې ټرمپ له طالبانو سره د خبرو له وروستي کېدو وړاندې یو ناڅاپه ټویټ وکړ او خبرې يې بندې کړې. په دې چاره کې تر ګردو لوی زیان زموږ حکومت او ولسمشر ته واوښت، ځکه چې امریکا یو ځل پرې وینا وکړه، د بندیانو د خوشې کولو اعلان يې وکړ او هغه ته يې خیالي کیسې جوړې کړې، خو وروسته يې بندیان خوشې نه کړل او بېرته يې بند ته ولېږل. د ملي یووالي حکومت نه د بندیانو په خوشې کولو کې صلاحیت درلود او نه يې هم په بېرته را ګرځولو کې. دا یوه امریکایي پرېکړه وه او د امریکا ګټې يې ایجاب کړې، نو لرې نه ده چې بیا دې هم تبادله وشي.

# په پاکستان کې روان کړکېچ؛ لاملونه او پایلې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د روان میلادي کال اکتوبر میاشتې په ۲۷مه د جمعیت علماء اسلام (ف) ګوند په مشرۍ پراخ لاریونونه د واکمن (پاکستان تحریک انصاف) ګوند پر ضد له کراچۍ پیل شول. د اکتوبر په ۳۱مه له نورو ځایونو لکه خیبر پښتونخوا او بلوچستان څخه هم ډلې ډلې خلک د لاریونو په موخه اسلام آباد ته ورسېدل او د اوسني واکمن ګوند له مشر څخه يې وغوښتل چې استعفا ور کړي او له واکه لاس په سر شي. دا چې د دې لاریونونو او استعفا غوښتلو لاملونه او د لاریون کوونکو نورې غوښتنې څه دي؟ د اوسني حکومت او په ټوله کې د پاکستان لپاره کومې ننګونې او پایلې له ځان سره لري؟ په دې تحلیل کې پرې هر اړخیزه شننه شوې ده.

**په پاکستان کې روان لاریونونه**

د پاکستان جمعیت علماء اسلام (ف) ګوند چې مشري يې مولانا فضل الرحمن کوي، له ډېرې مودې راهیسې پلان درلود چې د اوسني واکمن ګوند پر ضد پراخ لاریونونه تر سره کړي، چې بالاخره د یادو لاریونونو پراخې څپې پلازمېنې (اسلام آباد) ته د اکتوبر په ۳۱مه ورسېدې. که څه هم د لاریون کوونکو پراخه کچه د جمعیت علماء اسلام فضل الرحمن ډله او عوامي نیشنل ګوند جوړوي، چې مشري يې اسفندیار ولي خان کوي؛ مګر د واکمن ګوند نور مخالف ګوندونه لکه پاکستان مسلم لیګ نواز شریف ډله، پاکستان پیپلز پارټي او پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشران او پلویان هم تر یوې کچې په لاریون کې ګډون درلود.

د خیبر پښتونخوا حکومت د لاریون تر پیلېدو وړاندې ویلي وو، چې لاریون کوونکي به پرې نږدې چې اسلام آباد ته د لاریون لپاره ولاړ شي، خو وروسته ولایتي حکومت له خپلې پرېکړې په شا شو او لاریون کوونکي بې له کوم خنډ او ځنډ پرته پلازمېنې ته ورسېدل. بلخوا د کورنیو چارو وزیر اعجاز شاه د لاریون تر پیلېدو مخکې ویلي وو، چې د لاریون کوونکو مخه به نه ډب کوي او د هغوی د آسانۍ په خاطر به له هغوی سره هر راز قانوني مرسته کوي.

**د پاکستان جمعیت علماء اسلام ګوند لنډه پېژندنه**

په ۱۹۱۹ ز کال کې د انګریزانو د استعمار پر ضد او د هند ملي کانګرېس په ملاتړ د جمعیت علماء هند په نوم ګوند جوړ شو او په بر صغیر کې د مسلمانانو لپاره د یو ځانګړي هېواد (پاکستان) جوړېدو او ملاتړ په پار له یاد ګوند څخه د جمعیت علماء اسلام په نوم ګوند د نوي ګوند په توګه راټوکېد. په ۱۹٦۰ ز کال کې د ایوب خان ریژیم پر خلاف یاد ګوند چې مشري يې د مفتي محمود پر غاړه وه، خپل فعالیتونه پیل کړل. په ۱۹۸۰ ز کال کې تر مفتي محمود وروسته د هغه زوی مولانا فضل الرحمن د جمعیت علماء اسلام (ف) مشري پر غاړه واخیسته، چې تر اوسه د یاد ګوند مشري کوي. جمعیت علماء اسلام (ف) ګوند دیوبندي فکر لري او په خیبر پښتونخوا او بلوچستان کې زیات شمېر پلویان لري. له ۱۹۸۰ ز کال راهیسې يې د جمعیت اسلامي، عوامي نیشنل ګوند او پاکستان پیپلز ګوند سره په ائتلافي او ګډو حکومتونو کې برخه اخیسته او ویل کېږي چې له افغان طالبانو سره نږدې اړیکې لري او هر وخت د هغوی په ملاتړ څرګندونې هم کوي او اوس يې د پاکستان تحریک انصاف ګوند پر ضد پراخ لاریونونه پیل کړي دي.

**د اوسنیو او پخوانیو لاریونونو پرتله**

د پاکستان مسلم لیګ ګوند پر ضد؛ اوسني واکمن ګوند له ۲۰۱۴ ز کاله پراخ لاریونونه پیل کړل چې شاوخوا ۱۲٦ ورځې يې دوام وکړ او په ترڅ کې يې د وخت واکمن ګوند مشر او لومړی وزیر (نواز شریف) له دندې لرې کړل. د پاکستان پر ملي ټلوېزیون حمله وشوه او د هېواد اقتصاد ته په پراخه کچه زیان واوښت؛ خو د مولانا فضل الرحمن په مشرۍ روان لاریون چې د ګډونوالو کچه پکې د ۲۰۱۴ ز کال له لاریون څخه څو چنده زیاته ښکاري، تر اوسه د نظم له اړخه د زیاتو خلکو پاملرنه جلب کړې ده. د بېلګې په توګه، لاریون کوونکي هغه پلې لارې او سړکونه پاکوي، چې د لاریون پر مهال ورڅخه ګنده اخلي. که څه هم په لاریون کې ښځې نشته؛ خو د رسنیو له ښځینه کار کوونکو سره د لاریون کوونکو ښې رویې د رسنیو او ټولنیزو رسنیو کار کوونکو توجه هم ځان ته جلب کړې ده. خو یو شی چې د ۲۰۱۴ ز کال د لاریون کوونکو په پرتله دلته کمزوری ښکاري، هغه په لاریون کې د ګډون لاملونه دي. دلته لومړی ګډونوال له دې نه وو خبر چې ولې لاریون ته راغلي او د خپلو مشرانو څرګندونو پر خلاف يې غوښتنې مطرح کولې او یا يې ګډون د اسلام په خاطر ګاڼه. وروسته ولیدل شول چې له رسنیو سره له خبرو هم ګوښه کېدو ته اړ کړای شول، خو د تحریک انصاف ګوند د ۲۰۱۴ ز کال په لاریون کې تقریباً هر ګډونوال پر دې ښه پوهېده چې ولې يې لاریون کې ګډون کړی او لامل يې د چارواکو له لوري فساد، اقتصادي ځوړتیا او نورې اړینې ستونزې یادولې.

**د لاریون لاملونه**

په لومړي ځل د ۲۰۱۸ ز کال جون میاشتې په ۲۵مه په ټولټاکنو کې د تحریک انصاف ګوند د هېواد په سطحه ډېر شمېر رایې خپلې کړې او د پاکستان په تاریخ کې يې بانفوذه ګوندونو لکه (پاکستان مسلم لیګ (ن) او پاکستان پیپلز پارټۍ) ته لویه ماتې ورکړه. له هغې ډلې د جمعیت علماء اسلام (ف) ګوند هم و، چې په اوسني پارلمان کې هېڅ څوکۍ نه لري او یوازې په مشرانو جرګه کې څلور څوکۍ ورپاتې دي. هغوی تور پورې کوي چې ځینو ادارو چې ښايي مراد يې د فوځ او استخباراتو ادارې وي، د اوسني واکمن ګوند د بریا تر شاه لاس درلود، چې دې خبرو د فوځ خاموشي هم ماته کړه او له مولانا څخه يې د ادارو په اړه د وضاحت غوښتنه وکړه؛ خو مولانا يې په سیاست کې د فوځ په نه ګډون لنډ او ډیپلوماټیک ځواب ور کړ.

له دې پرته د پاکستان اقتصادي ځوړتیا، بې کاري، د حساب ورکولو په پلمه د پخوانیو سیاسي چارواکو نیول او د کشمیر قضیه هغه ستونزې دي چې یاد ګوند ته يې د لاریون کولو پلمه برابره کړه. خو د واکمن ګوند مشر عمران خان بیا تور پورې کوي چې مولانا د بهرنیو او په ځانګړې توګه د هندوستان په اشارو کار کوي او اقتصادي ځوړتیا د پخوانیو حکومتونو میراث ګڼي او تمه ښيي چې د هېواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره به کار کوي.

په ورته وخت کې عمران له لاریون کوونکو سره د خبرو اترو لپاره د دفاع وزیر پرویز خټک په مشرۍ کمېټه جوړه کړې، چې تېره دوشنبه يې د مخالفو ګوندونو کمېټې مشر اکرم خان دراني سره لومړۍ کامیابه ناسته لرله، د سکهانو (لړکیو) لپاره د کارتاپور پرانیستې تر څنګ، د احساس انډر ګریجویټ تر پروژې لاندې په راتلونکو څلورو کلونو کې د بې وزله کسانو لپاره د دوو لکو سکالرشیپونو (بورسونو) پروژه اعلان کړې او ښايي دا به هغه څه وي چې د لاریون کوونکي ګوند ادعاوې به تتې او له واکمن ګوند سره به مرسته وکړي.

خو لاریون کوونکی ګوند بیا غوښتنه کوي چې لومړی وزیر عمران خان دې استعفا ور کړي او نوې ټولټاکنې دې په داسې ډول تر سره شي، چې د ټاکنو په مرکزونو کې فوځ هېڅ کوم اغېز ونه لري او که نه؛ خپل لاریون ته به دوام ورکړي او په راتلونکې کې به د هېواد ټولې لویې لارې وتړي. خو لیدل کېږي چې له لاریون کوونکي ګوند سره د حکومت د نورو مخالفو ګوندونو ملاتړ د هغوی په ګوندیزو ګټو پورې تړلی ښکاري. په لاریون کې د هغوی د پلویانو ګډون تت ښکاري. که څه هم دغه کار د لاریون کوونکي ګوند لپاره د بریا پر وخت ښه نقطه ثابتېدای شي؛ خو په اوس کې د حکومت مخالفو ډلو لږ ګډون اوسني حکومت ته د لاریون کوونکو پر ضد د تبلیغاتو ښه زمینه برابروي او د هغوی د لا وېشلو لپاره تبلیغات قوي کولای شي.

په اوسنیو لاریونونو کې د حکومت مخالفو ګوندونو کم رنګه ګډون دوه لاملونه کېدای شي، یو دا چې هغوی په ولایتي اسمبلیو او پارلمان کې تر یوې اندازې څوکۍ لري او نه غواړي د تاوتریخوالي را پیدا کېدو په وخت کې حکومت د هغوی پر ضد تبلیغات وکړي او په دې توګه شته ولسي نفوذ هم له لاسه ور کړي او بل دا چې د یادو ګوندونو مشران د اوسني حکومت له لوري د احتساب ورکولو په ترڅ کې بندیان شوي. دوی غواړي پر اوسني حکومت د فشار له راوړلو سره خپل مشران (نواز شریف، مریم نواز، آصف زرداري او نور...) له زندانونو خوشې کړي، چې تر اوسه د (ن) لیګ پلویانو لپاره د هغوی د مشرانو نواز شریف او مریم نواز شریف په ضمانت خوشې کېدو په اړه شنه ځراغونه په لاس ورغلي.

بلخوا په دې وخت کې د مولانا فضل الرحمن له لوري د لاریون پیلول هم په دې هیله وو، چې د حکومت مخالف ګوندونو (پاکستان مسلم لیګ او پاکستان پیپلز پارټۍ) ملاتړ به ځکه جلب کړي، چې د هغوی مشران په جیلونو کې پراته دي او له دې پرته نور ګوندونه لکه عوامي نیشنل پارټي او پښتونخوا ملي عوامي پارټي غواړي پر اوسني حکومت د فشار له راوړلو سره په ولایتي کچه د خپل نفوذ زیاتولو لپاره کمپاین وکړي.

**د لاریون کوونکو او واکمن ګوند لپاره ننګونې**

له اوسني واکمن ګوند سره د فوځ ملاتړ، د نویو اقتصادي پروژو پیلول، د مولانا فضل الرحمن له لوري د فوځي ادارو پر ضد هغه څرګندونې چې تور پورې کوي چې په تېرو ټولټاکنو کې د ادارو (فوځ) په مرسته پراخه درغلي شوې، په لاریون کې د حکومت نورو مخالفو ګوندونو لږ ګډون او د تاوتریخوالي پیلول ښايي د اوسني حکومت لپاره هغه مثبت اړخونه واوسي، چې د لاریون کوونکو مخه پرې نوره هم ښه ډب کړای شي او په دې توګه د فوځ ملاتړ نور هم خپل کړي؛ خو بلخوا د هېواد په کچه بې کاري، د لومړنیو توکو د بیو او مالیې لوړوالی، د پخوانیو حکومتي چارواکو لکه پخواني لومړي وزیر نواز شریف، پخواني صدر آصف علی زرداري، پخواني لومړي وزیر شاهد خان قان عباسي، مریم نواز او ځینو نورو مخالفینو په جیلونو کې ساتل، پر رسنیو ځینې بندیزونه لګول لکه د یوې رسنۍ پروګرام چلوونکي نه شي کولی په بله رسنۍ یا ټلوېزیون کې د مېلمه په حیث ګډون وکړي او د مولانا فضل الرحمن پر ضد ناسم الفاظ کارول هغه ننګونې دي چې کېدای شي د اوسني حکومت د بدنامۍ او ختمېدو سبب وګرځي.

**د کړکېچ پایله**

په پاکستان کې د واکمن حکومت پر ضد لاریون راویستل څه نوې خبره نه ده او دا لړۍ د پاکستان له جوړېدو را وروسته تقریباً د هر حکومت پر وړاندې را روانه ښکاري. خو اوسنی لاریون د هغه چا په مشرۍ پیل شوی چې له یوې خوا د پاکستان په تاریخ کې ځانګړې حیثیت او تجربه لري او له بلې خوا د پاکستان له فوځ او استخباراتو سره يې اړیکې تل ښې پاتې شوې دي. دغه لاریون د هېواد اقتصاد ته هم زیان اړولی، اسلام آباد کې يې د عامو خلکو اقتصادي چارې هم ټکنۍ کړې دي. که چېرته لاریون دوام پیدا کړي او حکومت يې د پراخېدو مخه ونیسي، لرې نه ده چې لاریون به د تاوتریخوالي لوري ته ولاړ شي او کېدای شي د اوسني حکومت ټغر هم ورټول شي. خو که اوسنی حکومت د لاریون کوونکو غوښتنو ته پر وخت د ځواب لارې ولټوي، ښايي لاریون پای ومومي؛ خو د لاریون کوونکو لومړنۍ غوښتنه چې د لومړي وزیر استعفا ده او دا کار بیا ډېر ناشونی ښکاري، ځکه په پارلمان کې مخالف ګوندونه ۱٥٦ څوکۍ لري او که وغواړي چې له لومړي وزیر څخه د اعتماد رايې واخلي، هغوی ۱۷۲ رایو ته اړتیا لري.

یوازینۍ لار چې ښايي د اوسني حکومت ټغر ورټول کړي او لومړی وزیر استعفا ته اړ کړي، هغه د لاریونونو د لړۍ پراخول دي، چې تر اوسه يې په پاکستان کې مثبته نتیجه ورکړې ده؛ خو دا کار بیا د فوځ ملاتړ ته اړتیا لري، ځکه د فوځ مشرانو د خپلو ادارو په اړه د مولانا تر څرګندونو وروسته غونډه هم کړې او د ادارو پر ځواکمنتیا يې تاکید کړی چې دا بیا له اوسني حکومت څخه د ملاتړ څرګندې نښې ګڼل کېدای شي.

# امریکا له چین څخه څه غواړي؟

لیکنه: ډیویډ گراسمن- بي بي سي پښتو

په چین او امریکا کې دا هیله ډېرېږي چې د تېرې میاشتې تړون به دې دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګریزې جګړې پای ته رسولو کې ګټور تمام شي؛ خو دې دواړو هېوادونو تر منځ د سیالۍ ډګر یوازې سوداګریزه جګړه نه ده؛ بلکې په اقتصادي، دفاعي، کلتوري او ټکنالوژیکه برخه کې هم سره ښکر پر ښکر دي.

خو پوښتنه دا ده چې امریکا له چین څخه څه غواړي او د واشنګټن په باور به د دې لوبې پای څه وي؟

لنډ ځواب دا دی چې لومړی پړاو هماغه سوداګریز تړون دی چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د چین د لومړي وزیر مرستیال لیوهه په واشنګټن کې لاسلیک کړ.

خو دې دواړو هېوادونو تر منځ نانډرۍ له دې ژورې دي او په واشنګټن کې چې ما له هر چا سره خبرې کړې دي، فکر نه کوي چې دا تړون به څه بدلون راولي.

په وروستیو کلونو کې په امریکا کې د چین په هکله بد نظر ډېر شو، خو سپیني ماڼۍ ته د ټرمپ تر تللو مخکې هم دا منفي نظر و.

د امریکا د دفاع وزارت یو پخوانی لوی سلاکار دانیل کلېمن وایي، که په ۲۰۱٦ ز کال کې مو د هېلري کلېنټن یا د یوه بل ډیموکراټ یا جمهوریپال سیاست ته پام کولی، د دې برخې سیاست بدلېدل مو لیدل.

نوموړی چې اوس د نوې امریکا د امنیت په مرکز کې د ارام سمندرګي او اسیا د امنیت برخې مشر دی، وایي، دا احساس و چې له چین سره زموږ چلن او سیاست سمه پایله نه لري.

د پنټاګون پخوانی لوی سلاکار ډانیل کلېمن وایي، د چین په هکله د امریکا سیاست په ولسمشر پورې نه دی تړلی. د دې ټکر د زیاتېدو لپاره ډېر دلیلونه شته.

ري بوین چې له ۲۰۰۱ ز کاله یې تر ۲۰۱۸ ز کال پورې د امریکا په حکومت کې د اقتصادي شنونکي دنده لرله وایي، یو دلیل یې هم په ۲۰۰۱ ز کال د سوداګرۍ له نړیوال تړون سره د چین له یو ځای کېدو سره د اقتصادي کتو د ژمنو نه پر ځای کول دي.

د ري بوین په نظر، چین هېڅکله هم نه غوښتل چې د لوبې اصول په پام کې ونیسي. هغه وایي: «چین تر ډېره غوښتل چې د دې دلیل له مخې له دې تړون سره یو ځای شي چې څنګه دا اداره د نړیوالې سوداګرۍ اصول برابروي. په بله ژبه، چین غوښتل چې دا تړون خپل اصول بدل کړي، نه دا چې خپل ځان بدل کړي».

خو له دې لامله د منځنۍ امریکا په ځینو لوېدیځو او شمال- ختیځو ایالتونو کې د شوک چین په نوم کارخوني بندې او بېکاره شوې.

د دې ایالتونو خلک چې په ۲۰۱٦ ز کال کې یې تر ډېره ډونالډ ټرمپ ته رایه ور کړې وه، زیانمن شول. د امریکا ډېرې تولیدي شرکتونو کارګرو ته د ټیټې تنخوا د ور کولو لپاره خپل شرکتونه چین ته ولېږدول.

ري بوین وایي، چین نه غوښتل چې د لوبې اصول مراعات کړي؛ خو ډانیل کلېمن بیا وایي، دې شرکتونو چین ته د تلو لپاره درنه بیه ور کړه. هغه وایي: «چین دا شرکتونه اړ کړل چې خپل معنوي ملکیت او ټکنالوژي یې په واک کې ور کړي».

د هغه په باور: «خو هغه شرکتونه چې خپلې چارې یې چین ته لېږدولې نه وې کله چې پوه شول بیجنګ په یو نه یو ډول د دوی پر سوداګریز راز باندې پوهېږي، نو امریکا کې قانون پلي کوونکو ادارو د چینایي شرکتونو او وګړو د تورنولو لپاره د جاسوسۍ او د کمپیوټرونو هېک کولو یو لوی نوملړ جوړ کړ».

د اېف بي ای مدیر کریسټوفر ري په دې وروستیو کې د امریکا کانګرېس ته وویل، چې په دې وروستیو کې د چینایانو په لاس د امریکایي شرکتونو د معنوي ملکیت د غلا کولو په هکله زر دوسیې ارزوي.

د امریکا د حکومت د اټکل له مخې، یوازې له ۲۰۱۳ ز کاله تر ۲۰۱۷ ز کال پورې د دې معنوي ملکیت غلا له ۹۳٦ میلیاردو پونډو سره برابره ده.

د هریټج بنسټ په نوم د امریکا یوه سانتپالي اندیځ یا فکري مرکز غړی ډین چنګ دا مسئله د چین او امریکا تر منځ د اړیکو د خرابېدو اصلي لامل بولي. هغه وایي: «کله چې شرکتونه پوه شول چې چینایان د دوی د پنځونو د مالکیت حق خلافورزي کوي، د جوړو شویو توکو ټوټې سره بېلوي چې ځان پوه کړي او بیا ورته توکي جوړ کړي او د دې شرکتونو د څېړنو او تولید اړوند پروژې غلا کوي، نو ورځ تر بلې دې پایلې ته ورسېدل چې له چین سره یې ګډ کار په ګټه نه دی او ان تاوان کوي».

اقتصاد پوه ري بوین چې د امریکا حکومت ته کار کوي وایي، د ۲۰۱۵ ز کال په وروستیو کې د وضعیت بدلېدو ته پام وشو، هغه کسان چې له چین سره یې را کړه ور کړه غوښتله، له دې اندېښمن وو چې په څومره چټکۍ چین ځان امریکا ته رسوي. په همدې دلیل د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون کې جنرال رابرټ سپالډینګ د هغې ډلې سرپرست شو چې له چین سره د مقابلې او د دغه هېواد د نفوذ زیاتېدو د مخنیوي لپاره د ملي امنیت نوې ستراتیژي یې جوړوله.

هغه چې اوس په پوځ کې نشته د «پټه جګړه، کله چې امریکایي پوهان ویده وو، څنګه چین واک تر لاسه کړ؟» په نوم کتاب لیکلی دی.

ډین چنګ وایي، چین هڅه کوي چې د نړیوالې سوداګرۍ د شاهرګ پرې کولو واک ولري. جنرال سپالډینګ د امریکا ګټو ته د چین خطر په دویمه نړیواله جګړه کې د نازي جرمني له خطره سخت او ټکان ورکوونکی بولي.

هغه باوري دی چې دا خطر له پخواني شوروي هم سخت دی. هغه وایي: «چین د نړۍ د دویم ستر اقتصاد او ټولو لوېدیځو ادارو او حکومتي مرکزونو ته له لاسرسي سره له هغه ډېره ورتیا لري چې پخواني شوروي درلوده».

د جنرال سپالډینګ د څېړنو پایلې د ۲۰۱۷ ز کال په ډسمبر کې د ملي امنیت ستراتیژۍ په نوم چاپ شوې.

دا کتاب حکومتي ادارو ته مهم لارښود دی او د ټولو ادارو لپاره پلان شوی او نړیوالو او د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز کې د چین د قدرت پروګرام مشر باني ګلیزر وایي، دا کتاب د امریکا د ملي امنیت ستراتیژۍ کې د پام وړ بدلون ښیي. هغه وایي: «اوس له ترهګرۍ سره له جګړې واټن زیات شوی او د امریکا لپاره لوی ګواښ د ترهګرۍ ځای له مهمو ځواکونو سره سیالۍ ته ور کړل شوی دی».

د امریکا دفاع وزارت اوس دې پایلې ته رسېدلی چې په راتلونکو لسیزو کې به له چین سره مقابله د امریکا یو مهم پوځي هدف وي. د نړیوال قانون خلاف، په سوېلي چین سمندرګي کې د ټاپوګانو جوړولو او ور پسې بیا یې پر پوځي مرکزونو د بدلولو لپاره چې بیجنګ کومه بیړه کړې، په واشنګټن کې یې ډېر خلک اندېښمن کړي دي.

جنرال سپالډینګ وایي، د امریکا ګټو ته د چین خطر په دویمه نړیواله جګړه کې د نازي جرمني له خطره ډېر دی.

ډین جنګ وایي، دې ته په پام چې هر کال له دې سیمې د ۳،۵ تریلیون ډالرو په ارزښت نړیواله سوداګري تېرېږي، نو ویلی شو چې د چین دا هڅې د نړیوالې سوداګرۍ د شاهرګ د پرې کولو لپاره د قدرت خپلولو په مانا دي.

د باني ګلېزر په باور، د روباټیک او مصنوعي هوش په څېر راتلونکې مهمه ټکنالوژۍ کې د نړۍ په کچه د مخکښۍ لپاره د چین لوړ خیالونه هم ښکاره دي. هغه وایي: «دا اوس د سیالۍ اصلي برخه ده، ځکه که چین په دې برخه کې بریالی شي، نو بیا امکان شته چې د امریکا پر ځای د نړۍ تر ټولو ستر ځواک شي».

د هغه په اند، «دا هغه څه دي چې اوس ور باندې خبرې کېږي، د امریکا پوځي برتري د ستر پوځ له امله نه ده؛ بلکې د ډېر پرمختللي وسلوال سیستم له امله ده، که چین دې برخه کې مهمه ټکنالوژي وړاندې کړي، نو شونې ده چې امریکا د اوږدمهال لپاره شا ته پاتې شي او اوسنی دریځ ونه لري».

ډانیل کلېمن باوري دی چې په ناپوځي ټکنالوژۍ کې هم سیالي مهمه ده. هغه وایي: «یوازې د چین د جاسوسۍ او کورني سانسور ټکنالوژي ډېره پرمختللې نه ده؛ بلکې په ډېربدونکي ډول دا ټکنالوژي صادروي او بهر کې هم د دې ټکنالوژۍ د عملي تخنیکونو د زده کړې او لګښت برابرولو هڅه کوي».

کلېمن زیاتوي، د پرمختللې ټکنالوژیکې ولکې غوښتنې جګړه داسې موضوع ده، چې د چین په هکله په خبرو کې به یې اهمیت ډېرېږي. ځکه ویلی شو که په راتلونکو ټاکنو کې ولسمشر ټرمپ بریالی هم نه شي، نو دا تمه نه شي کېدلی چې د چین په هکله د امریکا اوسنی دریځ په نږدې راتلونکي کې بدل شي. په دې هکله اصلي بحث دا نه دی چې له چین سره مقابله وکړو که نه؛ بلکې خبره دا ده چې د دې کار لپاره غوره لار کومه ده.

ډېری ډیموکراټان هم د ډونالډ ټرمپ د یکړ(یوازې ځان سره) سیاست خلاف دي او دا غوره بولي چې په دې مسئله کې خپل متحدان هم ښکېل کړي.

دوی پر دې باور هم دي چې د چین په هکله د نرم سیاست خپلولو کې به ډېرې رایې تر لاسه نه کړي.

# طالب زندانیان او سوله؛

## د ولسي جرګې رییس: ښايي بهرني استادان مړه شوي وي، ځکه په تبادله کې ځنډ راغی



د طالبانو او امریکایي لوري تر منځ د زندانیانو د تبادلې تر ځنډ وروسته، په رسنیو کې پر دې موضوع ډول ډول تحلیلونه خپرېږي. تازه د افغانستان ولسي جرګې هم پر دې مسئله غبرګون ښود او د دغه جرګې مشر د بهرنیو استادانو په اړه نوې څرګندونې کړې دي. هغه ویلي، د دې امکان شته چې بهرني استادن مړه شوي وي؛ نو ځکه دغه تبادله ځنډېدلې ده. د ولسي جرګې د تېرې ورځې مهمه موضوع همدا او د ټاکنو مسئله وه.

تېره اونۍ ولسمشر غني په یوه خبري کنفرانس کې وویل، چې د طالبانو درې مهم زندانیان انس حقاني، مالي خان او حافظ رشید یې د دوو بهرنیو استادانو په مقابل کې خوشې کړي دي. ده ویلي وو چې دغه کسان په مشروطه توګه ازاد شوي، خو خپل شرطونه یې په ډاګه نه کړل. تازه راپورونه وایي چې طالب زندانیان بېرته زندان ته لېږدول شوي او لا هم په بند کې دي.

د ولسي جرګې د تېرې ورځې غونډه هم پر همدې موضوع ګرمه وه. د ولسي جرګې غړو ویل چې د سولې لپاره د زمینې برابرولو په موخه، د دغو زندانیانو خوشې کول ښه کار دی، خو باید دا واضح شي چې ولې دغه پروسه وځنډول شوه. د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني بیا د تېرې ورځې په غونډه کې وویل، دی هم د ولسي جرګې د مشر په توګه د بهرنیو استادانو په اړه معلومات نه لري، خو د دې احتمال شته چې دوی مړه شوي وي. رحماني وویل: ((د معاملې له ځنډېدو دا ثابتېږي چې طالبان پر خپلو ژمنو وفا نه کوي. دوی خپلواک نه دي، ان د خپلو بچیانو خوشې کول یې هم په وس نه دي پوره او په دې اړه پرېکړه کول یې د صلاحیتونو له دایرې وتلی کار دی. یا هم د دې احتمال شته چې دغه استادان نور ژوندي نه وي)).

د ولسي جرګې غړو دغه راز پر ولسمشر غني نیوکه وکړه چې د سولې په چارو کې له دوی سره هېڅ راز مشوره نه ده شوې. د دوی په خبره، ولسمشر غني ته پکار ده چې له ولسي جرګې سره د سولې پر موضوع مشوره وکړي او دغه راز د خلکو غوښتنو ته پام وکړي.

د ولسي جرګې غړي د بیجېنګ د غونډې په اړه هم وایي چې له دوی سره مشوره نه ده شوې او نه هم د دغه جرګې کوم غړي ته په غونډه کې د ګډون بلنه ورکړل شوې ده. د ولسي جرګې مشر میر رحمان رحماني وایي چې ولسمشر د سولې په اړه ورسره لیدلې دي، خو د بیجېنګ د غونډې په اړه یې هېڅ راز مشوره نه ده ورسره کړې. رحماني وایي: ((نه موږ هیئت ټاکلی دی او نه هم چا راسره مشوره کړې ده. د سولې په اړه هم زه دومره معلومات لرم چې په رسنیو کې خپرېږي)).

د ولسي جرګې غړي دغه راز وایي چې د سولې اساسي کرښې باید د حکومت له لوري مشخصې شي، بیا دې ولسي جرګې ته ولېږل شي او تر تایید وروسته دې هغه عملي شي. د ولسي جرګې غړې فاطمه کوهستاني وایي: ((د سولې لپاره باید اساسي کرښې مشخصې شي، بیا دې ولسي جرګې ته ولېږل شي، تر تصویب وروسته دې حکومت خپل هیئت انتخاب کړي، که دا کار نه کوي، نو هیئت او پرېکړه یې ملت ته د منلو نه ده)).

له دې سره هممهاله تازه افغان حکومت وایي چې درې طالب بندیان تر دې دمه د افغان حکومت په زندان کې دي. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي تېره ورځ ناوخته په ټوېټري پیغامونو کې ویلي، چې انس حقاني، مالي خان او حافظ رشید د افغان حکومت په زندان کې دي. د ده په خبره، طالبانو د یادو کسانو د خوشې کېدو لپاره ټاکل شوي شرایط پوره نه کړل؛ نو ځکه دغه پروسه ځنډېدلې ده. صدیقي دا نه دي ویلي چې طالبانو باید کوم شرایط پوره کړي وای، خو وایي چې د تبادلې پروسه دمګړۍ ځنډېدلې ده.

# مولانا عبدالله: یوناما دې زما په اړه د ټاکنو کمېسیون ته د کړي شکایت سپیناوی وکړي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون کمېشنر مولانا عبدالله ویلي چې د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو د ځنډېدو په اړه باید خلکو ته وضاحت ورکړل شي او ټینګار کوي چې یوناما باید د دغه کمېسیون په چارو کې لاسوهنه ونه کړي. نوموړي په کابل کې د یوې خبري غونډې پر مهال ویلي چې د ټاکنو پایلو ځنډېدو په اړه باید خلکو ته وضاحت ورکړل شي؛ ځکه هر هېوادوال حق لري، څو پوه شي چې په دې پروسه کې څه روان دي.

هغه زیاته کړې چې یوناما باید د افغانستان د ټاکنو په چارو کې لاسوهنه ونه کړي او د هغه شکایت لیک په اړه باید اسناد وړاندې کړي چې د ده په اړه یې کمېسیون ته کړی و. دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ یوناما د مولانا عبدالله په اړه یو شکایت د ټاکنو کمېسیون ته استولی و او په ترخ کې یې له نوموړي سره د قانوني چلند غوښتنه کړې وه. په دې شکایت لیک کې راغلي وو چې مولانا عبدالله د ټاکنو کمېسیون د پایلو د جمع بندۍ مشر بشیر علي ته د نورو کمېشنرانو پر وړاندې سپکاوی او د وهلو ګواښ کړی دی.

خو مولانا عبدالله د تېرې ورځې په کنفرانس کې وویل چې د اړوندې موضوع په برخه کې یوناما باید ټول اسناد د ټاکنو له کمېسیون، ولسمشرۍ ماڼۍ او څارنوالۍ سره شریک کړي.

هغه ویلي: «که یوناما دغه معلومات له خلکو سره نه شریکوي، نو زما پر وړاندې دې له خنډ جوړولو څخه لاس واخلي».

دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې د کابل ځینو ښاریانو هم د اړوندې موضوع په برخه کې د مولانا عبدالله د محاکمې غوښتنه کړې وه.

## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ ليکوال: ابوبکر صديق

◎ ژباړن: اقامحمد قريشي

دوهمه برخه

پاکستان

### اووم څپرکی
### بد نصيب بلوچستان




**بلوچستان، د جګړې څلور لارې**

پوځ له لسيزو غوارې چې د سرچينو له اړخه غني او ستراتيژيک موقعيت لرونکی بلوچستان په خپل لاس کې ونيسي. د اسلام پالو ياغيانو له فعاليتونو ليرې، دلته بلوڅ بېلتون پال د پوځ پر وړاندې ولاړ وو. دا پراخه سيمه له ايران او افغانستان دواړو سره پوله لري، په کور د ننه له فاټا، خيبر پښتونخوا، پنجاب او سيند ولايتونو سره هم نښتې پرته ده. بلوچستان د پاکستان نيمه جغرافيه جوړوي چې ۸۰۰۰۰ مربع کيلومتره کېږي. د پاکستان له ۱۸۰ ميليونه نفوس څخه يې څه کم پنځه سلنه د بلوچستان نفوس جوړوي چې نيم يې پښتانه دي.

د سرچينو له اړخه دغه غني سيمه کې هايدروکاربن، منرالونه د نړۍ تر ټولو لوی د سرو زرو کانونه شته دي. د دې سيمې يوه اوږده څنډه له عرب سمندرګي سره ترڅنګ پرته ده چې د نړۍ په کچه د توکو د لېږد را لېږد تر ټولو بوخته لاره ګڼل کېږي. په ۲۰۱۳ز کال پاکستان چين ته د بلوچستان پر ګوادر بندر د فعاليت اجازه ورکړه چې د ايران د فارس خليج په خوله کې پروت دی. په ايران کې مېشت بلوڅ، د دې هېواد له ۸۰ ميليونه نفوس څخه يوازې دوه سلنه جوړوي.

بلوچستان د مرکزي اسيا، سويلي اسيا، منځني ختيځ او لوېديځې اسيا د نښلوونکې څلور لارې حيثيت لري چې له يوې خوا د سيمه ييزې سيالۍ او بل لور د ياغي غورځنګونو له جګړه ييزو ګواښونو سره مخ دی. اسلام‌اباد په ۱۹۴۸، ۱۹۵۸، ۱۹۶۲ز کلونو او له ۱۹۷۳ز څخه تر ۱۹۷۷ز کلونو پورې بلوڅ بېلتون پال ځپلي، خو بيا هم هغوی پر خپل دريځ ولاړ دي. له ۲۰۰۴ز کال را وروسته د بلوڅو په جګړه کې بيا هم په زرګونو بلوڅ بېلتون پال جنګيالي، د حکومت سرتېري، سياسي مشران او عام وګړي وژل شوي. نږدې (۲۰۰۰۰۰) عام وګړي د دې جګړو له کبله بې ځايه شوي چې ډېری يې پنجابيان دي. په ايران کې هم بلوڅان تر سختو سياسي او کلتوري محدوديتونو لاندې ژوند کوي، هغوی د سني لږکيو په توګه د شيعه روحاني رژيم تر سيوري لاندې ژوند کوي.

د (وبې وژنې او له منځه يې يوسئ) تش په نامه نظامي عملياتو د بلوڅو پر ضد جريان لاره. د بشري حقونو د څار سازمانونو په وينا، په سلګونو شکمن ياغيان د پوځ، استخباراتو او پوله ساتو ځواکونو له لوري په مرموزه توګه له منځه وړل کېدل. ډېری يې غيب کېدل خو د ځينو به يې له شکنجې وروسته يوازې جسدونه پيدا شول. اسلام‌اباد هم د سريلانکا موډل په لاره اچولی او بلوڅ بېلتون پال په هره بيه ځپي. بلوڅ فعالان به وتښتول شول، اونۍ وروسته به يې د کوم سړک تر څنګ مړي پيدا شول. بلوڅ ملت پال د ورته وژنو تور پر امنيتي ځواکونو پورې کوي.

پاکستان بيا پر بلوڅو بېلتون پالو تور لګاوه چې هغوی اسلام‌اباد پلوه پنجابيان او سياستوال وژني. جګړه تر دې بريده رسېدلې چې ان منځلارې سياستوال چې په ټاکنو کې ونډه اخلي له اسلام‌اباد سره د خپلو اړيکو له کبله وېرېږي چې د بېلتون پالو له لوري ونه وژل شي. د سنيانو له لوري د لږکيو شيعه هزاره وو وژنو، جګړه لا نوره هم پېچلې کړې ده. په ۲۰۱۳ز کال د هغوی پر وړاندې جګړې لا زور ونيوه، دا مهال دوو لويو لاريو موټرونو پر هغوی چاودنه وکړه چې په پايله کې يې ۲۰۰ هزاره وګړي ووژل شول. د هزاره وو پر ضد د اکثرو بريدونو پړه پنجاب مېشته سني پلوه ډله، لشکر جنګوي په غاړه اخلي.

بل لور بلوچستان د سيمه ييزو سياليو د جګړو ډګر جوړ شوی. پاکستان په ډاګه پر هند تور لګوي چې د بلوڅو بېلتون پالو ملاتړ کوي، د پاکستان دا هم نه خوښېږي چې هند د افغانستان سويل لوېديځ د ايران له چاه بهار سره ونښلوي. چاه بهار کې هم بلوڅان مېشت دي. تهران د عرب سمندر پر دې بندر په دې موخه پانګونه کوي چې د مرکزي اسيا سوداګري جلب کړي. په تېره يوه لسيزه کې چين له ۳۰۰ ميليوني پروژې څخه ۸۰ سلنه پيسې د ګوادر بندر پر پرمختيا ولګولې. د ۲۰۱۳ز کال په جنوري کې بيجېنګ د دې بندر مديريت هم پر غاړه واخيست. ډېری شنونکي وايي چې د پاکستان او چين دا ملګرتيا به په راتلونکي کې د افغانستان په برخه کې هم پانګونه وکړي، دا هغه څه دي چې نوی ډهلی يې نه خوښوي. اسلام‌اباد له بلوڅو بېلتون پالو سره په جګړه ډېرې پيسې لګوي چې ډېری برخه يې له هغوی مرستو سرچينه اخلي چې غرب يې د طالبانو او القاعدې ځپلو لپاره اسلام‌اباد ته ورکوي. واشنګټن غوښتل، پاکستان پر ملا محمدعمر او نورو طالبانو فشار راوړي چې بلوچستان پرېږدي، دوی له دې لارې غوښتل هغوی د سولې ميز ته د خبرو لپاره وهڅوي. له دې سره يو ځل بيا د اسلام‌اباد او واشنګټن اړيکو کې درځ پراخ شو. بلوڅ بېلتون پال پر دې باور وو چې حکومت هغوی د دې لپاره ځپل چې بلوچستان کې يې د طالبانو پر پټنځايونو شخړه اوږده نه شي. له افغانستان څخه په لوی توپير اسلام‌اباد او تهران له خپلو بلوڅ مېشتو سره توپيري چلند کوي. د ۲۰۱۰ز کال په دوبي کې ايران او پاکستان د بېليونونو ډالرو د ګازو نل ليکې تړون لاسليک کړ چې په ترڅ کې به يې سويلي اسيا ته چې انرژۍ ته سخته اړتيا لري، ګاز ولېږدول شي. د ۲۰۱۳ز کال په مارچ کې د پاکستان ولسمشر اصف علي زرداري او د هغه سيال محمود احمدي نژاد په ګډه د دې نل ليکې ساختماني کار په داسې حال کې پرانيست چې يوه برخه يې لا پخوا تهران جوړه کړې وه. **دوام لري...**

# خانه نور د لوړو زده کړو موسسه

حميدالله حميدي




خانه نور د لوړو زده کړو موسسې په لومړي سر کې د ډيپلوم په کچه د کمپيوټر، اقتصاد او انګليسي ژبې په برخه کې خدامات وړاندې کول، چې بالاخره يې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې د هېواد له لوړو زده کړو وزارت څخه د لوړو زده کړو په برخه کې د فعاليت جواز تر لاسه کړ. د دې موسسې استاد او اداري مرستيال محمد جاويد ساحل وايي، دغې موسسې په لومړي سر کې دوه پوهنځي (اقتصاد او کمپيوټر ساينس) درلودل او په همدې دوو پوهنځيو کې يې محصلين جذب کړل. د معيارونو تر پوره کولو او يو څه پرمختګ وروسته، دغه موسسه وتوانېده چې له لوړو زده کړو وزارت څخه د دوو نورو پوهنځيو (انجنيري او حقوقو) د فعاليت جواز هم تر لاسه کړي. دغه موسسه د لوړو زده کړو تر څنګ، د انګليسي ژبې او کمپيوټر په برخه کې ځينې کلنې او مياشتني پروګرامونه هم لري، چې عملاً پکې خلک زده کړې کوي.

ياده موسسه اوسمهال څلور پوهنځي لري، چې په اقتصاد پوهنځي کې (اداره او تجارت) ډيپارټمنټونه، په کمپيوټر ساينس پوهنځي کې (ډېټابېس او اى ټي) ډيپارټمنټونه، په حقوقو پوهنځي کې (اداره او ډيپلوماسي او قضا او څارنوالي) ډيپارټمنټونه او په انجنيري پوهنځي کې بيا (ساختماني او برېښنا) ډيپارټمنټونه فعال دي. ښاغلی ساحل وايي، په څلورو واړو پوهنځيو کې يې د ۱۰۰۰ په شاوخوا کې محصلين چې ۱۷۲ يې نجونې دي، د ورځې په دريو وختونو کې پر زده کړو بوخت دي.

خانه نور د لوړو زده کړو موسسې تر اوسه پورې په دريو دورو کې د ۷۰۰ په شاوخوا کې محصلين د لېسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، چې د فارغانو له ډلې ۱۹۰ يې نجونې دي. د دې موسسې اداري مرستيال وايي، ۹۰ سلنه فارغ شوي محصلين يې د هېواد په ګوټ ګوټ کې په دولتي او غير دولتي ادارو کې په بېلابېلو بستونو کاروي او خپلو خلکو ته خدمت کوي. دی وايي، د ۳۰ په شاوخوا کې محصلين يې تر فراغت وروسته توانېدلي، چې د نړۍ په معتبرو پوهنتونونو کې د ماسټرۍ په کچه لا نورو لوړ زده کړو ته لار ومومي.

دا چې خانه نور په ټوله کې يوه شبکه ده او په چوکاټ کې يې خانه نور پوهنتون، په مزارشريف ښار کې نخبګان پوهنتون او د کابل ښار په بېلابېلو برخو کې د خانه نور په نوم ښوونځي دي، نو په دې اساس يې د بشري منابعو يو فعال رياست جوړ کړی دی. ښاغلی ساحل وايي، د پوهنتون، موسسې او ښوونځيو لپاره هغه استادان او ښوونکي پر دنده ګوماري، چې په اړونده برخه کې تخصص او پوره تجربه ولري. دی وايي، په خانه نور پوهنتون کې د تدريس چارې د ۳۲ دايمي او ۱۵ قراردادي استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي چې په دې کې دوه تنه ښځينه استادانې هم دي. نوموړی وايي، ښځينه استادانې يې د موسسې په اداري برخه کې هم دندې لري.

خانه نور د لوړو زده کړو موسسه د تضمين کيفيت اداره لري، څو ټول هغه قوانين او مقررات عملي کړي، چې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو لپاره ټاکلي دي. ساحل وايي، دغه اداره د تضمين کيفيت پروګرام د پر مخ بېولو تر څنګ، په کور د ننه او بهر کې له پوهنتونونو سره د تړونونو او هوکړو کارونه هم مخ ته وړي. دی وايي، په امريکا کې د سياټل پوهنتون، په هند، ځينو اروپايي هېوادونو او په کور د ننه له ډېرو نورو پوهنتونونو سره علمي اړيکې او هوکړې لري. دی وايي، له هغو پوهنتونونو سره چې هوکړې لري، وخت ناوخت د هغوی له تجربو ګټه اخلي، په سيمنارونو کې يې ګډون کوي او تر څنګ يې خپلې ستونزې او تجربې هم ور سره شريکوي. دی وايي، د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو د اتحاديې غړيتوب هم لري، څو خپل فعاليتونه سره همغږي کړي.

کتابتون چې د پوهنتون، موسسې، ښوونځي، اکاډميک بنسټ او ان کور د ملا تير جوړوي، نو خانه نور موسسې هم د خپلو محصلينو او استادانو لپاره مجهز کتابتون جوړ کړی دی. ښاغلی ساحل وايي، په پښتو، دري او انګليسي ژبو د اتو زرو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه لري، چې محصلين او استادان کولی شي له دې کتابونو څخه ګټه واخلي. دی وايي، د فزيکي کتابتون تر څنګ يې په موسسه کې ډيجيټالي کتابتون هم فعال کړی، چې محصلين يې په انلاين ډول هم مطالعه کولی شي او له دې کتابتون څخه ګټه اخيستلی شي. ساحل وايي، هڅه يې دا ده چې کتابتون لا غني کړي او د پوهنځيو اړوند کتابونه او نور مواد ور زيات کړي.

خانه نور د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلينو لپاره د کتابتون تر څنګ، د پوهنتون په د ننه کې اکاډميکه فضا، کانټين، کفټريا او د محصلينو د تګ راتګ لپاره ترانسپورټېشن هم په پام کې نيولی دی. دغه راز ياده موسسه د خپلو محصلينو لپاره مجله هم لري چې تر څنګ يې په کابل کې چاپېدونکې ورځپاڼې هم هر سهار د دوی اداري ته ور وړل کېږي، څو يې محصلين او استادان ولولي او له معلوماتو يې ګټه واخلي.

د دې موسسې اداره وايي، د لوړو زده کړو وزارت له مقررې سره سم يې د پوهنتون استازی د فارغ شويو محصلينو تحصيلي اسنادونه د تاييد لپاره وزارت ته وړي او محصل ته تاييد شوي اسنادونه سپاري. ښاغلی ساحل وايي، له دې مخکې به هر محصل خپل اسنادونه خپله لوړو زده کړو وزارت ته وړل، چې کارونه به يې له ځنډ سره مخ کېدل. خو اوس دغه ستونزه حل شوې ده او محصلين کولی شي د مونوګراف تر دفاع وروسته ډېر ژر خپل تحصيلي اسنادونه له پوهنتون څخه چې لوړو زده کړو وزارت ورته تاييد کړي وي، تر لاسه کړي.

د يادې موسسې ادراي مرستيال وايي، د خصوصي پوهنتونونو په اړه اوس د خلکو عامه پوهاوی زيات شوی او هغه سوی تفاهمونه چې مخکې به عامو خلکو ويل، چې تر خصوصي دولتي پوهنتونونه ښه دي او ارزښت يې ډېر دی، له منځه تللي دي. اوس پوه شوي چې دولتي او خصوصي پوهنتونونه دواړه د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې فعاليت کوي او دې دواړو پوهنتونونو فارغ شويو محصلينو ته لوړو زده کړو وزارت تحصيلي اسنادونه تاييدوي.

د خانه نور د لوړو زده کړو موسسې اداره د خپل دې بنسټ لپاره ډېر پلانونه لري، چې له مخې يې غواړي، لومړی خپلې شبکې ته معياري او دايمي ځای پيدا کړي، چې په يو ځای پکې تدريسي او اداري برخې جوړې کړي او تر څنګ يې که لوړو زده کړو وزارت ورته دويم ځلي اجازه ورکړي، د ماسټرۍ پروګرامونه پيل کړي، تحقيقي مرکزونه جوړ کړي او د محصلينو د وړتياوو لوړولو لپاره د عملي کارونو زمينه هم برابره کړي.

د خانه نور د لوړو زده کړو موسسې اداري مرستيال ښاغلی محمد جاويد ساحل وايي، لوړو زده کړو وزارت تر اوسه پورې د خصوصي پوهنتونونو ستونزو ته رسيدګي نه ده کړې او هغسې چې لازمه ده مرسته يې نه ده ورسره کړې. دی وايي، لوړو زده کړو وزارت بايد خصوصي او دولتي پوهنتونونو ته په يوه سترګه وګوري، ځکه کوم امکانات يا اسانتياوې چې دې دولتي پوهنتونونو په واک کې ور کول کېږي او پاملرنه ورته کېږي، خصوصي هغو ته نه کېږي. دی وايي، د دې تر څنګ خصوصي پوهنتونونه ډېره لوړه ماليه ورکوي، برېښنا يې تجارتي ده چې د دوی له وس پورته خبره ده. دی وايي، د دايمي ځای نشتون د پوهنتون اعتبار ته زيان رسوي، ځکه دوی اړ دي چې په يو يا دوو کلونو کې يو ځل خپل ځای بدل کړي. د دې موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت او په ټوله کې له افغان حکومت څخه غواړي، چې د خصوصي پوهنتونونو په پښو درېدو کې مرسته وکړي، ځکه خصوصي پوهنتونونه له دولتي هغو سره څنګ پر څنګ د هېواد د ابادۍ لپاره کار کوي او زرګونه هغه ځوانان چې له همدې پوهنتونونو فارغ شوي دي، همدا اوس د خپل هېواد پر خدمت بوخت دي او په ابادۍ کې يې ونډه اخلي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۴۰ |
| € | ۸۶,۴۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

له شپږ کلن کړکېچ وروسته؛

# د روسيې او اوکراین ولسمشران راتلونکې میاشت مخامخ لیدنه لري



د روسيې او اوکراین تر منځ له نږدې شپږ کلن کړکېچ وروسته، د فرانسې حکومت تایید کړې چې د دواړو هېوادونو ولسمشران به په راتلونکې میاشت کې مخامخ سره وګوري.

د فرانسې د حکومت په خبره، پاریس به راتلونکې میاشت د اوکراین په اړه د څلور اړخیزې غونډې کوربه وي.

په غونډه کې به پر هغو پرمختګونو خبرې وشي چې د مېنسک د هوکړې پر اساس یې اټکل شوی و. فرانسوي چارواکو ویلي چې د اوکراین په اړه دغه غونډه به د ډسمبر په نهمه جوړه شي.

د راپورونو له مخې، د روسيې او اوکراین ولسمشران، ولادیمیر پوتین او ولادیمیر زېلېنسکي به مخامخ د فرانسې د ولسمشر ایمانوېل مکرون او د جرمني د لومړۍ وزیرې انګېلا مېرکل په حضور کې د اوکراین د ختیځو سیمو پر امنیتي وضعیت هم خبرې وکړي.

د اوکراین په تړاو د څلور اړخیزو خبرو دې لړۍ ته د نورمنادي فورمټ هم ویل کېږي.

د دغه فورمټ مخکینۍ غونډه چې د روسيې، فرانسې، اوکراین او جرمني استازو برخه پکې درلوده، د ۲۰۱۶ ز کال د اکتوبر په میاشت کې جوړه شوې وه، خو هغه مهال ولادیمیر زېلېنسکي د اوکراین جمهور رییس نه و.

زېلېنسکي به د اوکراین د ولسمشر په توګه لومړی ځل په پاریس کې د روسيې له ولسمشر سره د خپل هېواد پر وضعیت د خبرو لپاره مخامخ کښېني. دا په داسې حال کې ده چې روسيې په ۲۰۱۴ ز کال کې د کرېمیا ټاپووزمه له اوکراینه جلا او له خپلې خاورې سره یوځای کړه.

له هغه راهیسې روسیه د اوکراین په ختیځ کې د هغو بېلتون غوښتونکو ملاتړ کوي، چې د اوکراین د حکومت پر ضد جنګېږي.

د بېلتون غوښتونکو او اوکرایني ځواکونو تر منځ په نښتو کې له هغه راهیسې ۱۳ زره کسان وژل شوي او په زرګونو نور ټپیان شوي دي.

د پاریس په څلور اړخیزه غونډه کې به هڅه وشي چې د اوکراین په ختیځ کې جګړې ته د پای ته رسېدو لار پیدا شي.

دا په داسې حال کې ده چې د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون د روان کال په دوبي کې روسيې ته تللی و او د ولادیمیر پوتین په کور کې یې له هغه سره وکتل.

د مکرون مکررې هڅې چې له روسيې سره یې د خبرو د پیل لپاره کوي، په اروپا کې ضد او نقیض بحثونه هم پارولي دي .

هغه تېره اونۍ له ایکانومېسټ مجلې سره په مرکه کې وویل: «که موږ په اروپا کې د سولې ټینګښت او د اروپا د ستراتېژیکې خپلواکۍ جوړول غواړو، باید د روسيې پر وړاندې خپل موقف ته بیاکتنه وکړو».

تر دې وړاندې د قزاقستان پخواني ولسمشر، نورسلطان نظربایف ویلي وو چې دی تیار دی چې د روسيې او اوکراین د ولسمشرانو د مخامخ کتنې لپاره زمینه برابره کړي.

نظربایف د نومبر په ۱۲مه ویلي وو چې زېلېنسکي یې بلنه منلې او ولادیمیر پوتین ته یې هم معلومات ورکړي، خو ځواب ته یې منتظر دی.

# ټرمپ په افغانستان کې پر جنګي جنایتونو تورنو امریکایي سرتېرو ته بښنه کړې ده



د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ په افغانستان کې پر جنګي جنایتونو تورنو امریکایي سرتېرو ته بښنه کړې ده. د اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس د راپور له مخې، د امریکا د ځانګړي پوځ یو سرتېری چې د یو افغان بم جوړوونکي پر وژلو تورن و او یو بل امریکایي سرتېری چې پر دریو افغانانو باندې یې د ډزو امر کړی و، چې له امله یې دوه تنه وژل شوي وو، د ولسمشر ټرمپ لخوا بښل شوي دي.

دغه راز یو بل امریکایي سرتېری چې په عراق کې د داعش ډلې د وژل شوي وسله وال له جسد سره یې د عکس اخیستلو له امله خپله رتبه له لاسه ورکړې وه، بېرته یې پوځي رتبه تر لاسه کړې ده.

د سپینې ماڼۍ د مطبوعاتي برخې مسوول استیفاني ګریشام په یوه اعلامیه کې ویلي، چې دغه کار د امریکا تېر تاریخ ته په کتو شوی دی.

هغه یاد کار د امریکا د تاریخ له مخې، د دغه هېواد سرتېرو ته د دویم چانس ورکولو په توګه بللی دی.

دا په داسې حال کې ده، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په روان زېږدیز کال کې ویلي وو، چې د خپل هېواد ځینو سرتېرو ته د بښنې په هڅه کې دی.

ټرمپ د روان کال د مې په میاشت کې ویلي وو: «هغه ځینې سرتېري، هغه کسان دي چې د ډېر وخت لپاره سخت جنګېدلي دي».

د میتو ګلستون په نوم امریکایي سرتېری په افغانستان کې د خپل ماموریت پر مهال د یوه بم جوړوونکي افغان پر وژلو تورن شوی و. دغه راز د کلینټ لورانس په نوم بل امریکایي سرتېري په ۲۰۱۲ ز کال کې په افغانستان کې د خپل ماموریت پر مهال پر دریو افغانانو باندې دې ډزو امر کړی و، چې دوه تنه یې وژل شوي وو.

کلینټ لورانس د یادې پېښې په تور پر ۱۹ کاله بند محکوم شوی و، چې شپږ کاله یې په بند کې تېر کړل.

د ولسمشر ټرمپ دغه اقدام په امریکا کې له غبرګون سره مخ شوی او هغه یې په عدلي او قضایي چارو کې د ولسمشر ټرمپ د لاسوهنې په مانا بلل دی.

د یادونې ده چې امریکایي ځواکونو په تېرو اتلسو کلونو کې په افغان جګړه کې تر حد زیات جنایتونه کړي، خو تر اوسه د دغو جنایتونو په تړاو هېڅ ډول څېړنې نه دي شوې.

# ټاکنو کمېسیون: په ټاکنیزو سرغړونو کې ښکېل کارکوونکي د رایو بیاشمېرنه نه کوي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون خپل هغه کارکوونکي د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته ورپېژني، چې په یو ډول یې په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې سرغړونه او تخطي کړې ده. د دغه کمېسیون د پرېکړې له مخې، دا مامورین به د رایو په بیاشمېرنه او تفتیش کې ونډه ونه لري.

د ټاکنو کمېسیون په یوه پرېکړه لیک کې چې تېره ورځ خپور شوی، د کمېسیون دارالانشا ته دنده سپارل شوې چې د دغو کارکوونکو نوملړ د سې شنبې تر ورځې برابر کړي. په دوی کې د هغو محلونو رییسان شامل دي چې د محلونو رایې یې د نتایجو په فورمو کې د ستونزو له کبله بیا شمېرلو او پلټنې ته تللې دي.

همدارنګه د هغو محلونو چارواکي او د بایومټریک معلوماتو ثبتوونکي مامورین هم د رایو په بیاشمېرلو کې له ګډونه منعه شوي، چې پکې له بایومټریک پرته رایې کارول شوې، د بایومټریک معلومات یې سم نه دي ثبت شوي، د نتایجو ډیجیټلي فورمې یې ناسمې یا هېڅ نه دي ډکې شوې او د نتایجو د فورمو عکسونه یې نه دي اخیستل شوي.

د هغو محلونو مسوولین هم پکې شامل دي چې د بایومټریک د حافظې کارتونه یې ورک کړي، یا مرکز ته نه دي رسېدلي یا ترې مواد په زوره اخیستل شوي او راپور یې نه دی ورکړی او یا یې په راپورونو کې توپیر موجود دی.

د کمېسیون په پرېکړه لیک کې همدارنګه ویل شوي چې د ولایتي چارو هغه رییسان به هم د رایو په بیاشمېرنه او تفتیش کې برخه ونه لري چې د خپل واک په سیمه کې یې د ټاکنیزو سرغړونو، درغلیو او جرایمو راپور نه دی ورکړی او یا پخپله پکې یو ډول لاس لري.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون رییسې هوا عالم نورستانۍ یو ځل بیا پر خپل ټویټر لیکلي، چې یوازې بایومټریک شوې رایې به د افغانستان راتلونکی زعیم ټاکي.

د نوموړې په خبره، د رایو په بیاشمېرلو کې به هېڅ ډول تقلب او خیانت ونه شي او څو چې د ټاکنو د بهیر په اړه څېړنې بشپړې نه شي، لومړنۍ پایلې به اعلان نه شي.

ټاکل شوې وه چې د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې نږدې یوه میاشت مخکې اعلان شوې وای، خو دا اعلان ډېر وځنډېد چې لا هم څرګنده نه ده کله به اعلان شي.

# کلیمزی: روان کال په غزني کې د ملکیانو په ګډون ۲۲۴۹ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده

د غزني والي وحیدالله کلیمزي ویلي، د روان کال له پیله په دغه ولایت کې د ملکي وګړو په ګډون، ۲۲۴۹ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

نوموړي ویلي چې د امنیتي ځواکونو د عملیاتو له امله سږ کال په دغه ولایت کې د طالبانو د مرګ ژوبلې کچه د نورو کلونو په پرتله ډېره لوړه ده.

هغه زیاته کړې چې د روان کال په اوږدو کې د ۷۰ قوماندانانو په ګډون، ۱۶۰۰ طالبان وژل شوي او ۲۶۷ نور ټپیان شوي دي.

هغه ویلي: «په دې کې زیاتره یې خارجیان دي او ۳۴ مهم طالبان مو ژوندي هم نیولي دي».

د والي د معلوماتو له مخې، سږ کال له طالبانو د ده یک، خواجه عمري او جغتو ولسوالۍ هم بېرته نیول شوې دي.

کلیمزي دغه راز ویلي چې د روان کال په اوږدو کې په دغه ولایت کې ۶۳ امنیتي سرتېري او ۷۲ ملکي وګړي وژل شوي او ۶۰ امنیتي سرتېري او ۱۸۷ ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

هغه زیاته کړې: «موږ کوښښ کوو چې د طالبانو پر وړاندې دغه عملیات جاري وساتو، څو په دغه ولایت کې امنیتي وضعیت ښه شي».

بلخوا د والي د یادو څرګندونو په اړه د غزني ښار اوسېدونکي سید عبدالله پژواک ته ویلي، چې څه باندې دوو زرو کسانو ته د مرګ ژوبلې اوښتو مسئله باید عادي ونه نیول شي.

هغه ویلي: «دا وژل شوي کسان ټول افغانان دي، دا کومه وړه خبره نه ده، دا لړۍ باید نوره ودرول شي، حکومت او طالبان باید نور سوله وکړي».

د دغه ولایت ځینو نورو اوسېدونکو هم په دې تړاو اندېښنه څرګنده کړې او له حکومت او طالبانو یې د اوربند غوښتنه کړې ده.

بل لور ته وسله والو طالبان هم په غزني کې د درنې مرګ ژوبلې څرګندونې تایید کړې دي؛ خو د دې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد پژواک ته ویلي چې په غزني کې د طالبانو په پرتله حکومتي سرتېرو ته ډېره مرګ ژوبله اوښتې ده.

هغه ویلي: «د حکومتي سرتېرو په پرتله سږ کال زموږ تلفات غزني کې ډېر کم دي، سلګونه حکومتي سرتېري سږ کال په غزني کې وژل شوي دي».

د یادونې ده چې غزني د افغانستان د ناامنو ولایتونو له ډلې دی چې د روان کال په لومړیو کې وسله والو طالبانو د دغه ولایت پر مرکز ډله ییز برید وکړ، چې پنځه ورځې یې دوام وکړ او په ترڅ کې یې سلګونو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲٦مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۷مه | ٤٦۳مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ١٤ | ١٧ | ٢٠ | ١٤ | ٢٤ | ٢٠ |
| ٢ | -١ | ٢ | ٢ | ١٠ | ٧ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۱ | لمر ختل ۰٦:۲۷ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیگر ۰۲:۲۹ | ماښام ۰٤:٤۹ | ماخوستن ۰٦:۱٦

## نړۍ



له شپږ کلن کړکېچ وروسته؛
# د روسيې او اوکراين ولسمشران راتلونکې مياشت مخامخ ليدنه لري

5

## په ایران کې د تېلو بیو د لوړېدو په غبرګون کې د لاریونونو پر مهال ۲۴ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د ایران لاریونونه چې د جمعې له ورځې راهیسې د تېلو د بیو د لوړېدو په غبرګون کې پیل شوي، د دغه هېواد په مختلفو ښارونو کې پر تاوتریخوالي اوښتي دي.

د ایسنا خبري اژانس د کرمان ولایت د یو دولتي مقام محمد محمود آبادي له قوله رپوټ ورکړی، چې د سیرجان په ښار کې د تاوتریخوالي په ترڅ کې لږ تر لږه یو تن وژل شوی او ۲۳ نور ټپیان شوي دي.

محمود آبادي ویلي چې تر اوسه د دغه شخص د وژل کېدو څرنګوالی معلوم نه دی او دوی په دې اړه پلټنې پیل کړې دي.

هغه ویلي، اوسمهال وضعیت تر کنټرول لاندې دی او له ورمې شپې راهیسې تر اوسه نوی تاوتریخوالی نه دی رامنځ ته شوی.

په ایران کې دغه لاریونونه وروسته له هغې پیل شول چې د دغه هېواد دولت د تېلو سهمیه وټاکله او ورسره سم يې بيې يې هم لوړې شوې.

د ایران د حکومت د نوې پرېکړې له مخې، د یو لیتر تېلو بیه له لسو زرو ریالو څخه پنځلس زرو ریالو ته لوړه شوه او هر شخصي موټر په یوه میاشت کې کولای شي یوازې ٦۰ لیتره تېل تر لاسه کړي. حکومت ویلي، که له ټاکل شوې کچې د تېلو اخیستل واوړي، د هر لیتر په بیه کې ۳۰ زره ریاله زیاتوالی راځي.

د دغو بدلونونو په غبرګون کې د تهران، اصفهان، شیراز، تبریز، بوشهر، ارومیه، کرج، کرمانشاه، سرپل ذهاب، سقز او مشهد په ګډون، د دغه هېواد په ځینو نورو ښارونو کې لاریونونه شوي دي.

## پلوسي: ټرمپ داسې تېروتنه کړې چې ښايي له دندې پرې ګوښه شي



د امریکا په کانګرېس کې د استازو جرګې مشرې نانسي پلوسي ویلي، د اوکراین په موضوع کې د ټرمپ پر ضد داسې شواهد شته چې ښيي، هغه له اوکراین سره د معاملې له امله د بډو په جرم کې ښکېل دی.

پلوسي ویلي، ټرمپ د داسې تېروتنې مرتکب شوی چې ښايي له دندې پرې ګوښه شي. هغې په یوه خبري ناسته کې په دې تړاو زیاته کړې: «بډې دا دي چې د یو جعلي تحقیق او اجازې پر وړاندې پوځي مرستې ودروي او یا اجازه ورکړي. ټرمپ هم دا خبره مني، خو وايي چې په دې کې کومه خبره نشته ده، نو د هغې په خبره، دا په اصل کې یوه ستره تېروتنه او بډې دي». دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ څه موده وړاندې اوکراین ته د ۳۹۱ میلیونو ډالرو په ارزښت د وسلو د مرستو درولو پرېکړه کړې ده. که څه هم نوموړي ویلي چې له خپل واک سره سمه پرېکړه یې کړې، خو اوس ډیموکراټان څېړنه کوي چې ایا ولسمشر اوکراین ته د ۳۹۱ میلیونو ډالرو په ارزښت د وسلو د مرستو په درولو سره له خپله واکه ناوړه ګټه اخیستې او که نه.

د یادونې ده چې د ټرمپ او کانګرېس ترمنځ دا لومړی ځل نه دی چې نانډرۍ رامنځته کېږي، بلکې تر دې وړاندې هم دواړو لورو پر یو او بل د غیرقانوني کړنو له کبله سختې نیوکې کړې دي.

## ریاست مهاجرین هرات:
## امسال در حدود ۸۰ هزار مهاجر افغان به گونهٔ اجباری از ایران اخراج شده‌اند



ریاست مهاجرین و عودت کننده‌گان ولایت هرات می‌گوید که از آغاز امسال تاکنون در حدود ۸۰ هزار مهاجرین افغان، به گونهٔ اجباری از ایران اخراج شده‌اند.

احمد جاوید نادم، رئیس مهاجران و عودت کننده‌گان ولایت هرات می‌گوید که ۱۳۴۳ پناهجوی دیگر به گونهٔ داوطلب به کشور برگشته‌اند.

او در این باره گفت: «۷۷ هزار و ۷۰۰ نفر را داشتیم که به گونهٔ اجباری رد مرز شده‌اند و ۱۳۴۳ نفر را داشتیم که به شکل داوطلبانه وارد کشور شده‌اند. این آمار، متغیر است».

این در حالی است که به گفتهٔ مقام‌های محلی ولایت هرات، بخش بزرگی از این اخراج شده‌گان در شرایط بسیار بد در این ولایت و ولایت‌های دیگر زنده‌گی می کنند و امکانات زنده‌گی ندارند.

شورای ولایتی هرات، ادامهٔ روند اخراج پناهجویان افغان از ایران را نگران کننده می‌داند.

غلام حبیب هاشمی، عضو شورای ولایتی هرات اظهار داشت: «متأسفانه امروز جنجال‌هایی که در وزارت خارجه وجود دارد، باعث شده‌است که به مسایل مهاجران رسیده‌گی نشود. این به خود ما بر می‌گردد که باید به مشکلات خود رسیده‌گی کنیم».


با این همه، دفتر والی هرات می‌گوید که می‌کوشد تا در هماهنگی با مقام‌های ایرانی، روند اخراج اجباری پناهجویان افغان را از ایران کاهش بدهند.

جیلانی فرهاد، سخن‌گوی والی هرات بیان داشت: «بحث مسؤلیت‌های دو جانب در پرتو قوانین ملی و بین‌المللی که هم جمهوری اسلامی ایران و هم جانب افغانستان و هم جانب کمیساری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده‌گان [روشن شده‌است] و طرف‌ها متعهد شده‌اند که این بحث جدی است و باید مدنظر گرفته شود».

بربنیاد آمارها، در حدود شش میلیون مهاجر افغان در ایران زنده‌گی می‌کنند. از این میان، در حدود سه‌صدهزار تن آنان به گونهٔ غیرقانونی در ایران پناهنده استند.

## ژوند

## تاسې د هېچا تایید او هڅونې ته اړتیا نه لرئ



که تاسې د یوه پیاوړي ایمان خاوندان وئ، نو نیوکه کوونکو ته مو ووایئ: «ستاسې تایید یا انکار زما لپاره بې ګټې دی. دا په ژوند کې د پیاوړتیا یوه لاره ده».

دې کسانو ته ووایاست: «زه پوهېږم چې څه ډول یو څوک یم، تاسې نه شئ کولای په ژوند کې مې کوم بدلون راولئ. کېدای شي ومې هڅوئ یا هم چلیپا راباندې کش کړئ، خو په دواړو حالتونو کې به زه د خپل تاج ساتنه کوم».


خلک په ټوله کې انګېزه ورکوونکي دي. کېدای شي یوه شېبه مو وهڅوي او بله شېبه مو نقد یا رد کړي. که وغواړئ چې پر سر مو د خپل افتخار تاج وساتئ، بیا یې نو په هر حالت کې ساتلی شئ. کېدای شي د خلکو خوښ شئ یا یې بد و اېسئ، کېدای شي باور در باندې ولري او یا یې ونه لري؛ خو تاسې کولای شئ د ټول ژوند لپاره دغه تاج پر خپل سر وساتئ. تاسې د هېچا تایید او هڅونې ته اړتیا نه لرئ، ځکه ستاسې پیدایښت خدای پاک تایید کړی او همدا ستاسې لپاره کافي دی.

## فيبر لرونکې مېوې او پر بدن يې اغېزې

روغتیایي څېړونکي وايي، هغه عمر خوړلي کسان چې له فیبر لرونکو مېوو ګټه اخلي، ډېر لږ د اوریو پر ناروغۍ اخته کېږي او غاښونه یې روغ وي.

دوی پر ډېرو هغو کسانو څېړنه کړې ده، چې په ورځني ډول يې په هره غذايي وعده کې فیبر لرونکې خواړه او مېوې کارولې دي. د څېړنو پايلو ښودلې چې دغه چارې په عمر خوړلو کسانو کې ۳۰ سلنه د غاښونو دې له منځه تلو او د اوریو د ناروغۍ مخه نیولې ده.

څېړونکي پلاوي وايي، د غاښونو دې له منځه تلو لپاره تر ټولو غوره مېوې منې، الو او کېلې دي. دوی وايي، د دې لپاره چې عمر خوړلي کسان روغ غاښونه ولري، باید په هره غذايي وعده کې لږ تر لږه ۲،۵ ګرامه فیبر واخلي. پر مېوو سربېره، ځینې سابه او حبوبات هم کولی شي د غاښونو د روغتیا لپاره ګټور تمام شي.



څېړونکي وايي، ډېرې لږ مېوې او سابه دي چې د غاښونو د روغتیا لپاره ګټور دي، چې له دې جملې پورته ذکر شوې مېوې ۱۴ سلنه او سابه پنځه سلنه کولی شي د غاښونو د خرابېدو مخه ونیسي.

د شمېرو پر اساس، په سلو کې لس امریکایي سپین ږیري د اوریو د وینې کېدو پر ناروغۍ اخته دي. دغه شمېرې بیا په عمر خوړلو کسانو کې چې عمرونه يې له ۷۵ کلونو پورته دي، شل سلنې ته رسېږي.